د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

**۲۶/ ربیع الثاني/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۱۷ / میزان /۱۴۰۵هـ، ش**

# د ساري او غیر ساري امراضو د مخنیوي او وقائې اهمیت او ضرورت ؛ ځکه وقایه بهتره ده د علاج څخه.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على إمام المرسلين نبينا محمد صلى الله عليه و سلم وآله و صحبه أجمعين.

أمّا بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله تبارك وتعالى في القرآن المجيد: (إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ).[۱]

**درنو مسلمانانو او قدرمنو ورونو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

داسلام په مبارک دین کې ژوند او روغتیا لوی نعمت بلل شوی او ستر اهمیت لري نو ځکه انسان دخپل ژوند اوصحت په ساتنه مکلف دی.

د اسلام په مقدس دین کې د پنځو مقاصدو څخه یو مقصد د نفس ساتنه ده او د نفس د حفاظت لپاره په انسان زیات شیان حرام شوي دي لکه د شرابو څښل، د خبیثه شیانو خوړل، د مخدره موادو استعمال، د نفس قتلول... او د ډیرو حرامو شیانو خوراک ورته په سخته لوږه کې جائز شوي دي لکه د مَخمصې په حالت کې د مردارې خوړل او د نفس د نجات په موخه ددومره خوراک په خوړلو مأمور شوی دی چې ژوندی پاتې شي .

بناءً مسلمان باید د هر هغه څه نه ځان وساتي چې دده د ضرر او یا دده د هلاکت سبب ګرځي.الله تعالی فرمایي:(وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ).[۲]

ژباړه: او پخپلو لاسونو ځانونه په هلاکت کې مه اچوئ. علامه الوسي رحمه الله ددې أیت په تفسیر کې لیکلي دي:( واستدل بالآية على تحريم الإقدام على ما يخاف منه تلف النفس).[۳]

ژباړه: په دې آیت استدلال شوې دی د حراموالي دداسې اقدام چې په هغې کې د نفس د تلف کیدو ویره موجود وي.

---

[۱] -البقرة:( ۲۲۲)

[۲] - البقرة:( ۱۹۵)

[۳] - روح المعاني (۲/ ۷۸)

نو هغه کارونه چې د ناروغۍ، هلاکت او زیان سبب کېږي، مسلمان باید ترې ځان وساتي.

همدارنګه صحت او روغتیا د الله تعالی ستر نعمت دی او مسلمان باید دغه نعمت له زوال څخه وژغوري. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:(نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ).[٤]

ژباړه: دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې تاواني دي: روغتيا او وزګارتيا.

ډېر خلک د روغتیا په وخت کې د روغتیا قدر نه کوي؛ کله چې ناروغه شي، بيا پوهېږي چې روغ بدن څومره ستر نعمت و. نو باید د ناروغۍ له اخته کیدو څخه مخکې د ناروغیو مخنیوی او وقایه وکړو ؛ ځکه د ناروغۍ مخنیوی نسبت د ناورغۍ علاج ته آسانه دی.

ساري ناروغۍ هغه ناروغۍ دي چې د یو ناروغ انسان، حیوان، حشرې، ککړو خوړو او اوبو، یا د چاپېریال له لارې بل انسان ته انتقالېږي، لکه نري رنځ او توبرکلوز، زکام او انفلونزا، په ما شومانو کې شری، د ما شومانو د فلج ویروس ، تور ټوخی، کولرا، تور زیړی او ساده زیړی، ملاریا، ډینګي، جذام، خارښ اوداسې نور.

الله تعالی انسان ته د ژوند ستر نعمت ورکړی دی. روغتیا، بدن، عقل او ژوند ټول د الله تعالی امانتونه دي. مؤمن باید د دغو نعمتونو ساتنه وکړي او داسې کارونه ونه کړي چې خپل ځان، کورنۍ او ټولنه له ناروغیو او زیانونو سره مخ کړي.

له همدې امله د ساري او غیر ساري ناروغیو مخنیوی او وقایه په اسلام کې ډېره مهمه ده.

د ا سلام مبارک دین د ساري او غیر ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره وقایوي ا صول مقرر کړي دي. د ساري امرا ضو په هکله رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«فِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ».[٥]

ژباړه: په جذام مرض اخته مريض څخه داسې وتښته لکه څرنګه چې ته له زمري څخه تښتې.

علامه طیبي رحمه الله ددې حدیث په شرح کې لیکي:(ولم يرد الشرع بتعطيلها (الاصول الطبية) ، بل ورد بإثباته).[٦]

ژباړه: شریعت د طبي اصولو د تعطیل لپاره نه دي راغلی، بلکې شریعت د طبي اصولو د اثبات لپاره راغلی دی.

دا حدیث په دې دلالت کوي چې له هغو ناروغیو څخه چې د انتقال امکان لري، باید وقایوي تدابیر په نظر کې ونیول شي او د ناروغۍ د خپرېدو لارې باید محدودې شي او داکار د توکل خلاف نه دی.

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«لَا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ».[٧]

ژباړه: ناروغ څاروی دې له روغ څاروي سره نه ګډوي.

[٤] - صحيح البخاري ت (١٦/ ٢١٢)

[٥] - صحيح البخاري (٧/ ١٢٦)

[٦] - شرح المشكاة للطيبي الكاشف عن حقائق السنن (٩/ ٢٩٧٩)

[٧] - صحيح البخاري (٧/ ١٣٨)، صحيح مسلم (٤/ ١٧٤٣)

له دې حديث څخه د ناروغی د انتقال مخنيوي معلوميږي ، خو دا انتقال پرته دالله جل جلاله د ارادې څخه نشي۔ تقليدلای لکه څرنګه چې په جاهليت کې د خلکو عقيده وه.

طاعون چې د ساري ناروغيو له جملې څخه دی رسول الله ﷺ د طاعون په اړه داسې لارښوونه کړې ده:«إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ».(٨)

ژباړه: کله چې تاسې واورئ چې په يوه سيمه کې طاعون دی، نو هغه سيمي ته مه داخليږئ.

دا د عامې روغتيا لپاره يو ډېر مهم اصــل دی: کله چې يوه ســاري ناروغي خپرېږي، بايد د هغې د انتقال د مخنيوي لپاره مسؤلانه تدابير ونيول شي.

په يو بل حديث شريف کې راځي. عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِـيدِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ، فَأَرْسَـلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ».(٩)

ژباړه: عمرو بن شريد د خپل پلار شريد رضي الله عنه څخه روايت کوي . حضرت شريد رضي الله عنه وايې چې د ثقيف قبيلې په وفد کې يو کس په جذام مرض اخته ؤ ، رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم ورته احوال ور وليږه چې واپس شـه (او مدينې منورې ته مه راځه) بيشکه مونږ له تاسره بيعت وکړ.

کله چې حضرت عمر رضي الله عنه د شام علاقو ته ور نږدې او خبر شو چې په شام کې د طاعون مرض خپور شوی دی ،نو فيصــله يې وکړه چې واپس دمدينې منورې په لور وګرځي، نو په دغه وخت کې ورته حضرــت ابو عبيده بن جراح رضي الله وويل:(أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ؟ فَقَالَ عُمَرُ: لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ؟ نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ إِلَى قَدَرِ اللَّهِ).(١٠)

ژباړه: آيا ته د الله تعالی له تقدير څخه تيښــته کوې؟ حضرــت عمررضي الله عنه ورته په ځواب کې وويل :کاش چې دا خبره ستا څخه بل چا کړې وای ای ابوعبيده؟ هو! مونږ د الله تعالی د يو تقدير څخه (چې طاعون دی) تښتو د الله تعالی بل تقدير ته (چې هغه صحت دی).
په ځينو رواياتو کې راځي چې رسول الله صـلی الله عليه وسـلم په جذام اخته مريضانو سره يوځای خوراک کړی دی. په دې اړه امام نووي رحمه الله ليکي:(الْأَمْر بِاجْتِنَابِهِ وَالْفِرَار مِنْهُ عَلَى الِاسْـتِحْبَاب وَالِاحْتِيَاط لَا لِلْوُجُوبِ ، وَأَمَّا الْأَكْل مَعَهُ فَفَعَلَهُ لِبَيَانِ الْجَوَاز).(١١)
ژباړه: امر په اجتناب د مجذوم او له هغه څخه فرار په اســتحباب او احتياط باندې بنا دی او خوراک د مجذوم سره حمل دی په جواز باندې(ځکه چې جذام په خپل طبيعت سره پرته د الله له ارادې چاته نه انتقاليږي).

په يو حديث شريف کې راځي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:«مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً، لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ، وَلَا سِحْرٌ».(١٢)

ژباړه: چاچې سهار پيل کړ په خوړلو د اوو عجوه خرماوو باندې ، ضرر به ونه رسوي ورته په دغه ورځ کې زهر او نه سِحر.

٨ - صحيح البخاري (٧/ ١٣٠)، صحيح مسلم (٤/ ١٧٤٠)
٩ - صحيح مسلم (٤/ ١٧٥٢)
١٠ - صحيح البخاري (٧/ ١٣٠)
١١- شرح النووي على مسلم (٧/ ٣٩٣)
١٢ - صحيح مسلم (٣/ ١٦١٨)

علماء کرام وايي  چې په حديث کې دليل دی د مرضونو د مخنيوي او وقائې لپاره.

د امراضــو د مخنيوي لپاره وقايوي تدابير شرعي حکم دی او بايد مســلمانان د امراضــو په مقابل کې وقايوي تدابير تر لاس لاندې ونيسي ؛ ځکه چې وقايه آسانه ده د علاج څخه.

امام ابن نجيم رحمه الله په ديارلسمه قاعده کې ليکلي دي:( الدَّفْعُ أَقْوَى مِنْ الرَّفْعِ ).[13]

په صــحي برخه کې ددې قاعدې معنا داده چې د مرض دفع کول ډير قوي اثر لري نســبت د مرض رفع کولو ته؛ ځکه چې د مرض رفع کول زمان گير او د ځاني زيان ترڅنگ زيات مالي لگښتونه له ځانه سره لري.

قديمي او اوسني طبيبان وايي: (الوقاية خير من العلاج) .وقايه له علاج څخه غوره ده.

يعنې تر دې چې انســـان ناروغ شي او بيا د اوږدې او گرانې درملنې اړتيا ورته پيداشي، غوره دا ده چې له مخکې د ناروغۍ د رامنځته کېدو او خپرېدو مخه ونيول شي.

د همدې اصــل په بناء علماء کرام وايي چې د ماشــومانو د فلج مرض څخه د مخنيوي په خاطر د پوليو واکســين او قطرې ماشــومانو ته ورکول جائز دي او ځينې علماء لازم بولي؛ ځکه چې د اولادونو وقايه کول او قوي کول د امراضــو په مقابل کې ضروري دي.  بنوري ټاون دارالافتاء په (١١٨٨٥) شــميره فتوی کې راځي.ترجمه :( که چيرې له تحقيق او څيړنې سره ثابته شــوه چې د پوليو په قطرو کې حرام اجزاء شــامل دي ، يا ددغو قطرو په ورکړه کې قوي شــک  وي چې د پوليو په قطرو کې نقصان دی ، نو شرعاً دپو ليو قطرو استعمال جائز نه دی او که نه نو بلا وجه او بغير د تحقيق هغه ناجائز او حرام گرځول او د خلکو د هغې څخه رامنع کول سم کار نه دی.

**پاکوالی او نظافت د وقائې مهم اصل دی:**

اسلام د پاکۍ دين دی. ځينې وخت د ساري او غيرساري مرضونو سبب او علت ناپاکي او د نظافت عدم رعايت وي.

بناءً په کار ده چې په کور، کلي ، بازار او ښار کې د چاپيريال پاکې او نظافت ته افراد او دولت په شريکه توجه وکړي، ترڅو د ناپاکه اوبو، فضولياتو او خزلو، مرداريو څخه د مرضونو مکروبونه انسانانو او حيواناتو ته انتقال نشي.

الله تعالی فرمايي:(إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ).[14]

ترجمه:  په يقين سره چې الله پاک توبه ويستونکي او پاکي کوونکي خوښوي

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ».[15]

ژباړه: پاکوالی د ايمان نيمه برخه ده.

---

[13] - الأشباه والنظائر (مشكول غير موافق) (١/ ٢٤٨)

[14] -البقرة:( ٢٢٢)

[15]- صحيح مسلم (١/ ٢٠٣)

نو د لاسونو پاک ساتل، د بدن او جامو نظافت، د خوړو پاکوالی، د کور او چاپېریال پاک ساتل او د ککړتیاوو مخنیوی هغه کارونه

دي چې د انسان او ټولنې د روغتیا په ساتنه کې مهم رول لري.

پنځمه برخه: د غیرساري ناروغیو مخنیوی ټولې ناروغۍ ساري نه دي. د زړه ناروغي، د وینې لوړ فشار، شکر، چاغښت او د بدن گڼې نورې د انسان د ژوند له طرز کم حرکت، ناسمو خوړو او نورو عواملو سره تړاو پیدا کولی شي.

اسلام انسان ته د اعتدال، پاکوالي او له ضرر څخه د ځان ساتلو لارښوونه کوي. الله تعالی فرمايي:(وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ).[١٦]

ترجمه: وخورئ او وڅښئ خو اسراف مه کوئ ځکه چې الله پاک اسراف کوونکي نه خوښوي.

امام ابن نجیم رحمه الله د ځینو طبیبانو په حواله لیکی:( قد جَمَعَ اللَّهُ الطِّبَّ في هذه الْآيَةِ وهو قَوْلُهُ { وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا } يَعْنِي الْإِسْرَافَ في الْأَكْلِ وَالشُّرْبِ هو الذي منه الْأَمْرَاضُ).[١٧]

ژباړه: بېشکه الله تعالی ټول طب په دې مبارک آیت کې راټول کړی دی{ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا } یعنې اسراف په خوراک او څښاک کې هغه څه دي چې ددینه ټول مرضونه را منځ ته کیږي.

نو په خوړو کې اعتدال، د بدن د اړتیا مطابق خوراک، له زیان رسوونکو عادتونو څخه ځان ساتل او د منا سب فزیکي فعالیت او سالم ژوند اختیارول د روغتیا د ساتنې له مهمو لارو څخه دي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:«مَا مَلأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ. بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلاَتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ... ».[١٨]

ژباړه: انسان له نس څخه بدتر لوښی نه دی ډک کړی؛ کافي دي بني آدم لره څو مړۍ چې ملا یې پرې ټینگه شي...»

دا حدیث موږ ته د خوراک په برخه کې د اعتدال او له ډېرخورۍ څخه د ډډې کولو درس راکوي.

**د ناروغۍ پر مهال د درملنې اهمیت:**

د وقایې ترڅنگ اسلام د درملنې هڅونه هم کړې ده.رسول الله ﷺ فرمایلي:«تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً».[١٩]

ژباړه: درملنه کوئ، ځکه الله داسې ناروغي نه ده پیدا کړې مگر د هغې لپاره یې درمل هم پیدا کړي دي.

نو مسلمان باید نه یوازې د ناروغۍ له رامنځته کېدو مخکې د وقایې هڅه وکړي، بلکې کله چې ناروغي پیدا شي، باید د مناسبې او مسلکي درملنې لپاره هم اقدام وکړي.

[١٦] - الأعراف:( ٣١)

[١٧] - البحر الرائق (٨/ ٢٠٨)

[١٨] - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٥٩٠)

[١٩] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٦/ ٥)، سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٣٨٣)

**د روغتیا ساتنه د فرد او ټولنې ګډ مسؤولیت دی:**

د روغتیا ساتنه یوازې د ډاکټر او روغتیایي کارکوونکو مسؤولیت نه دی؛ بلکې د هر انسان مسؤولیت دی.

مور او پلار باید د خپلو اولادونو روغتیا ته پام وکړي. ښوونکي باید زده کوونکو ته د پاکوالي او روغتیا اهمیت وروښيي.

علما او خطیبان باید خلکو ته د اسلام له نظره د روغتیا او وقایې ارزښت بیان کړي.

روغتیایي کارکوونکي باید خلکو ته سمې مشورې ورکړي.او هر مسلمان باید داسې چلند وکړي چې نه خپل ځان او نه نور خلک له بې ضرورته خطر سره مخ کړي.الله تعالی فرمایي:(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى).[20]

ترجمه:او مرسته کوئ تاسې یو تر بله په نیک کار او تقوی کې

د ناروغیو د مخنیوي په برخه کې هم د ټولنې ګډه همکاري د همدې قرآني اصل یوه مهمه بېلګه ده.

پای او نصیحت

**ګرانو ورونو!**

راځئ چې د خپل روغتیا قدر وکړو. خپل بدن، کور، مسجد، ښوونځی، بازار او ټول چاپېریال پاک وساتو.

د خوړو په برخه کې له اسراف څخه ډډه وکړو. د سالم ژوند اصول مراعت کړو. له ساري ناروغیو څخه د مخنیوي لپاره د روغتیایي متخصصینو مشروعې او ګټورې لارښوونې عملي کړو. او که څوک ناروغ شي، د درملنې لپاره دي پر وخت اقدام وکړي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبکاته**

---

[20]ـ المائدة:(٢)